# د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامې (SDP) کې د خپلواکه اسانتیاوې برابروونکي (IF) رول (کار)



دا کتابچه به ستاسو سره مرسته وکړي چې د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامې (SDP) کې د یو خپلواکه اسانتیاوې برابروونکي (IF) مهم رول وپېژنئ. دا یو ساده او ګام په ګام لارښود وړاندې کوي چې تاسو ته ښيي چې څنګه یو IF تاسو سره په SDP کې په نوم لیکنه کولو کې، د خدماتو په انتقالولو کې او په ښه پرمختګ کولو کې مرسته کولی شي.

## یو خپلواکه اسانتیاوې برابروونکی څه کوي؟

خپلواکه اسانتیاوې برابروونکی (IF) هغه څوک دی چې تاسو یې استخدام کوئ ترڅو د SDP پروسې پرمهال له تاسو سره مرسته وکړي. دوی د سیمه ییز مرکز یا د خدماتو وړاندې کوونکو لپاره کار نه کوي - دوی ستاسو لپاره کار کوي.
<u>دلته ځینې لارې دي چې IF کولی شي مرسته پکې درسره وکړي:</u>

- پر شخص متمرکز پلان جوړونه (PCP): IF تاسو سره مرسته کوي چې یو داسې پلان جوړ کړئ چې ستاسو د خوبونو/ارمانونو، اهدافو او ننګونو یعني ستونزو سره سمون ولري. دوی په دې معلومولو کې مرسته کوي چې تاسو د خپل تر ټولو ښه ژوند کولو لپاره څه ډول ملاتړ ته اړتیا لرئ.
- پرېکړې کولو کې ملاتړ کوي: IF تاسو سره پدې کې مرسته کوي چې څنګه د خپلې بودیجې پیسې په ښه توګه وکاروئ، څنګه خپل د لګښت پلان جوړ کړئ، ستاسو د اهدافو ترلاسه کولو لپاره یو عملي پلان جوړ کړئ، او په نورو ډېرو برخو کې هم مرسته کوي.
- د خدمتونو همغږی: دوی تاسو سره مرسته کوي چې داسې خدمتونه، فعالیتونه او کارکوونکي پیدا کړئ چې ستاسو اړتیاوو سره سمون لري-حتی ستاسو په ټولنه کې د ځایي تجارتونو څخه استفاده اخیستلو له لارې د دودیز یعني عادي سیستم څخه بهر خدمتونه موندلو کې هم درسره مرسته کوي.
- دوامداره وکالت: IF ستاسو د حقونو لپاره درسره ولاړ وي، ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو غږ اورېدل کیږي. دوی به ډاډ ترلاسه کړي چې له تاسو سره د عزت او درناوي چلند کیږي.

## IF څنګه د SDP په نوم لیکنې کې مرسته کوي؟

<u>په SDP کې نوم لیکنه کیدای شي ګډوډونکې وي، مګر IF دا اسانه کوي:</u>

- لارښوونه: دوی تاسو سره پدې کې مرسته کوي چې پوه شئ چې SDP څنګه کار کوي او تاسو ته په هر یو ګام کې لارښوونه کوي.
- دفتري/کاغذي کار او غونډې: دوی په فورمونو، غونډو او د دې ډاډ ترلاسه کولو کې درسره مرسته کوي چې تاسو د نوم لیکنې شرایط پوره کوئ.
- ستاسو PCP جوړول: IF تاسو سره مرسته کوي ترڅو ستاسو د اهدافو او هغو مرستو پر بنسټ چې تاسو ورته اړتیا لرئ یو پر فرد متمرکز پلان (PCP) جوړ کړئ.

تر ټولو ښه رول یې څه دی؟ ستاسو IF تاسو ته لچک او واک یعني کنټرول درکوي - دوی تاسو سره مرسته کوي چې یو داسې پلان جوړ کړئ چې یوازې ستاسو او ستاسو د ځانګړو اړتیاوو لپاره مشخص شوی وي

## د یو IF په مرسته SDP ته انتقالېدل

**له دودیزو یعني عادي خدماتو څخه SDP ته بدلون پلان جوړونې ته اړتیا لري.**

<u>یو IF په دې برخو کې مرسته کوي:</u>

- ستاسو بودیجه جوړول: دوی تاسو سره مرسته کوي چې پوه شئ چې تاسو د خدماتو لپاره څومره پیسې لرئ.
- د لګښتونو پلان: دوی تاسو سره پدې کې مرسته کوي چې د لګښتونو پلان جوړ کړئ ترڅو ستاسو د بودیجې پیسې د هغو خدماتو لپاره وکاروئ کوم چې ستاسو د اهدافو سره سمون لري.
- د خدمتونو وړاندې کوونکو انتخابول: IF تاسو سره مرسته کوي چې مناسب خدمتونه وړاندې کوونکي پیدا کړئ کوم چې ستاسو د کلتوري ارزښتونو او شخصي ترجیحاتو سره سمون لري.

## ولې باید یو خپلواکه اسانتیاوې برابروونکی استخدام کړئ؟

- د ماهر لخوا لارښوونه: یو IF د SDP په پروسه ښه پوهیږي او له تاسو سره مرسته کوي چې د خپلو اړتیاوو لپاره غوره پرېکړې وکړئ.
- شخصي ملاتړ: دوی خدمتونه د اړتیا سره سم برابروي ترڅو ستاسو د شخصي اهدافو او ننګونو یعني ستونزو سره سمون ولري.
- د نوښتګرۍ لچک: دوی تاسو سره مرسته کوي چې د بې ساری یعني ځانګړو حل لارو په اړه فکر وکړئ ترڅو هغه خدمتونه ومومئ چې په حقیقت کې ستاسو لپاره مناسب وي.
- وکالت: دوی ډاډ ترلاسه کوي چې ستاسو غږ اورېدل کیږي او ستاسو حقونو ته درناوی کیږي.

په داسې حال کې چې د IF استخدام اختیاري دی، مګر د دې په کلکه سپارښتنه کیږي ځکه چې دوی پروسه لا زیاته بې خنده/روانه، آسانه او شخصي کوي. د IF لګښت ستاسو د شخصي بودیجې څخه راځي، نو تاسو ورته له خپل جیب څخه پیسې نه ورکوئ.

## د انتقالېدو وروسته د IF څخه دوامداره ملاتړ

حتی ستاسو د SDP له پیل وروسته، ستاسو IF کولی شي تاسو سره په دې طریقه مرسته وکړي:

- د پلان تعدیلول: کله چې ستاسو اهداف بدلیږي، نو ستاسو IF کولی شي ستاسو د پلان په تعدیلولو کې درسره مرسته وکړي.
- د بودیجې اداره کول: IF ستاسو د مالي مدیریت خدمت وړاندې کوونکي (FMS) سره کار کوي ترڅو ستاسو د لګښتونو څارنه وکړي او ډاډ ترلاسه کړي چې خدمتونه د پلان سره سم وړاندې کیږي.
- د نویو خدمتونو پلټنه: IF په نویو خدمتونو او فعالیتونو موندلو کې تاسو سره مرسته کوي ترڅو ستاسو د پرمختللو اهدافو سره سمون ولري.

**د یو خپلواکه اسانتیاوې برابروونکي په ګمارلو سره، تاسو خپل ځان ته ځواک ورکوئ ترڅو یو داسې ژوند جوړ کړئ چې ستاسو لپاره ګټور وي!**

په داسې حال کې چې د IF ګمارل اختیاري دي، مګر د دې په کلکه سپارښتنه کیږي ځکه چې دوی کولی شي د SDP پروسه لا زیاته بې خنده/روانه، لا زیاته شخصي او د کارولو لپاره لا زیاته آسانه کړي. د IF د ګمارلو لګښت ستاسو د **شخصي بودیجې** څخه راځي، نو تاسو ورته له خپل جیب څخه د پیسو ورکولو اړتیا نه لرئ.

د یو **خپلواکه اسانتیاوې برابروونکي (IF)** ګمارل تاسو ته دا آزادي او **ملاتړ** درکوي چې ستاسو د خپلواکو پرېکړو نیولو د سفر بشپړ واک یعني کنټرول ولرئ. یو IF د خپل تخصص او شخصي لارښوونې له لارې کولی شي ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو پلان ستاسو د اهدافو، خوښونو/ارمانونو او ارزښتونو سره سمون لري، په داسې حال کې چې دا ډاډ هم ترلاسه کوي چې تاسو هغه خدمتونه لرئ چې تاسو د ښه پرمختګ لپاره ورته اړتیا لرئ. که تاسو تازه پیل کوئ یا که خپل پلان تعدیل کوئ، یو IF تاسو سره مرسته کوي چې په سمه لاره اوسئ او دغه پروسه درته اسانه کوي. د IF په انتخاب سره، تاسو خپل ځان ته ځواک ورکوئ چې داسې ژوند جوړ کړئ چې ستاسو لپاره ګټور وي.

**نن د پیل لپاره د خپل سیمه ییز مرکز د خدماتو همغږي کوونکي سره خبرې وکړئ!**

**د** Alta Regional Center **د خپلواکو پرېکړو نیولو د برنامې** (Self-Determination Program) **سیمه ییزې مشورتي کمیټې** (Local Advisory Committee) **لخوا تمویل شوی دی**

[SDPQuestions@altaregional.org](mailto:SDPQuestions@altaregional.org)

**د خپلواکو اسانتیا برابرونکو د روزنې اکاډمۍ په همکارۍ سره** [www.iftrainingacademy.com](http://www.iftrainingacademy.com)